## الدرس الأول
## اولنۍ درس

### تمهيد
### سرنامه

يو سړی چی کله دی زمکه کښې سوچ فکر اوکړي كومه كښې چی انسان ژوند تيروئ ، ستړګو باندی دا پراخه او خائيسته کائنات أوينی . آسمان چی د خائيسته ډيرو ستورو واله دے ، دا ستوری چی يو مضبوط نظام کښې روان دی ، او زمکه غټ غټ غرونه كندی ، نهرونه ، ونئ ، فصلونه ، هواګانئ اوبه ، أوچه ، لونده ، ورځ شپه ، دی ټولو څېزونو کښې د سوچ او فکر کولو نه روستو سؤال پيداء شی چی دا هر څه چا پيداء كړی دی ؟ هغه ذات څوک دے چی د آسمان نه أوبه راوروی ، چی پدی أوبو باندی ټول ژوند ولاړ دے ، پدی أوبو سره د زمکې نه فصلونه ونئ ، ګلونه ، ميوئ ، راوځی ، او أوبو باندی انسانان او څناور خپله تنده ماتوی ، او زمکه باقی أوبه ذخيره کوی ، په زمکه کښې د جذب کولو صفت چا پيداء كړی دی ، انسان په خائسته شکل کښې چا پيداء كړی ؟ انسان چی خپل بدن کښې سوچ فکر وکړی عجيبه قدرتونه ښکېنی انسان ته معلوم شی ، هواء ته چی سوچ وکړيشی کچرته هواء أودريږی تول ژوند به ختم شی ، پدی ټولو مخلوقاتو کښې چی انسان سوچ فکر اوکړی دا سؤال پيداء شی چی دا هرڅّه چا پيداء كړی دی ، ددی خبری جواب دادی ، يقينا الله تعالی هغه ذات دے چی د ددی ټول مخلوق پيداء کونکۍ دی او هغه يواځی ددی کائنات متصرف دی ، يقينا الله تعالی ستا رب دے ، رزق درکوی ، ژوند درکوی ، مرګ راولئ ، الله تعالی هغه ذات دی چی دا عالم ئې د نشت نه شته کړی دی ، آيا يو عاقل انسان دا ګومان کولئ شي چی دا هر څه عبث پيداء شوی دی ، دا خلق په دی زمکه ژوند کوی بيا به مړه شی او هر څه به ختم شی ، حقيقت څه دی مونږه د څه مقصد دپاره پيداء كړے شوے يو ؟ مونږه الله تعالی د څه دپاره پيداء كړی؟ الله تعالی مونږه د خپل عبادت دپاره پيداء كړی يو ، چی يواځی د يو الله تعالی عبادت به کيدلی شی ، مونږه ته ئي رسولان راليږلی دی ، کتابونه ئي نازل كړلی دی ، د عبادت طريقے بندګانوته وروخائي ، بس څوک چی د الله تعالی بندګی وکړی ، او د الله تعالی حکمونه أومنئ دڅه نه چی ئی منع كړی ده ځان أوساتی نو د الله تعالی رضاء به حاصله كړی او څوک چی مخ واړوی الله د عذاب به مستحق شی يقينا الله تعالی دا دنيا د عمل او د امتحان ځائی ګرځولئ دی ، د قيامت په ورځ به الله تعالی ټول خلق د سزاء جزاء دپاره دوباره را پيداء كړی شی ، الله تعالی جنت پيداء كړی دی چی هرقسمه نعمتونه پکښې شته دی چی د انسان سترګو ندی ليدلئ او غوږونو د هغی باره کښې ندی أوريدلئ او زړه کښې د هغه نعمتونو خيال هم ندی تير شوی ، دغه شان مختلف قسم انواع د عذابونه ئی هم تيار كړی،

اسلام څه ته وائی: اسلام هغه دين دے چی الله تعالی دخپلو بنداګانو دپاره غوره كړی دے ، د اسلام نه علاوه بل يو دين الله تعالی نه قبلوی ، او اسلام د ټولو خلقو دپاره تر قيامت پوری قابل د اتباع دے څوک چی په اسلام عمل وکړی دا لار د کاميابی او د نجات ده اسلام نوی دين نه دی بلکه د ټولو پيغبرانو دين دے.